## د ارزاقو امارتي‌شرکت فعالیتونه مخ پر وده دي

ارزاقو امارتي‌شرکت د خپلو اغېزمنو او پراخو خدمتونو له لارې توانېدلی، چې دولتي او غیردولتي ادارو ته اړین خوراکي توکي پر وخت او په لوړ کیفیت ورسوي. سږکال د دې‌شرکت د خدمتونو کچه د تېرو کلونو په پرتله شاوخوا پنځه اتیا سلنه ښه شوې ده. دغه‌شرکت په دوه برخو کې فعالیت لري، چې یوه یې اساسي او بله یې غیراساسي ده.

په اساسي برخه کې‌شرکت د خوراکي توکو د برابرولو، ګدامدارۍ او لېږد پر خدمتونو تمرکز کوي. دا مهال ارزاقو امارتي‌شرکت له څلورو مهمو وزارتونو سره د خوراکي توکو د لېږد قراردادونه لري، چې پکې د کار او ټولنیزو چارو، لوړو زده کړو، پوهنې او عامې روغتیا وزارتونه شامل دي. له همدې لارې شرکت توانېدلی، چې د دولتي ادارو اړوند لیلیو، روغتونونو، روزنتونونو، تخصصي او دیني مراکزو ته د اړتیا وړ تازه او خام توکي په منظم ډول ولېږدوي.

د ترسره شویو قراردادونو له مخې؛ ارزاقو امارتي‌شرکت اړوندو ادارو ته له خپلو ګدامونو خوراکي توکي برابروي، د ولایتونو نماینده ګۍ ته یې لېږدوي او له هغه ځایه بیا اړوندو مسوولینو ته یې سپاري.

په غیراساسي برخه کې‌شرکت خپل جایدادونه د سوداګریزو سهولتونو له مخې په قرارداد او یا هم په کرایه ورکوي. دشرکت جایدادونه اوس مهال په سوداګریزو مارکیټونو، هټیو او نورو خدماتي برخو کې کارول کېږي، چې له امله یې یادشرکت ته د پام وړ عواید جمع کېږي.

د ارزاقو امارتي‌شرکت فعالیتونه د هېواد په اقتصادي وده کې رغنده رول لوبولی دی، چې دغه‌شرکت نه یوازې د توکو لېږد باوري کړی؛ بلکې ګڼ شمېر فني او غیر فني کسانو ته یې د کار زمینه هم برابره کړې ده.

په پام کې ده، چې‌شرکت د خپلو خدمتونو ساحه پراخه، د خدمتونو کیفیت نور هم لوړ کړي او نورې اداري هم د خپلو خدمتونو تر چتر لاندې راولي.

دا هم د ویلو ده، چې د ارزاقو امارتي‌شرکت‌ژمن کارکوونکي له خپلو چوپړیزو فعالیتونو خوښ دي، شپه او ورځ هڅه کوي، چې خپلو هېوادوالو ته لوړ کیفیت لرونکي، باوري خدمتونه وړاندې او دشرکت پرمختګ ته دوام ورکړي.

